# د نجات لاره

07-Novmber-2024



هفته وراه د سُنَّتو بکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو بک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ 7 نومبر کال 2024ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 4 جمادي الاوّل، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د نجات لاره

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د اِيمان والا کيدلو برکتونه
- د عِلم د حاصلولو درې ذريعې
- د بے دينه اِنسان کم عقلي
- د قيامت پۀ ورځ د اَهلِ فترت حال

پيشکش

اَلْمَدِيْنَۃُالْعِلْمِيَۃ

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

***For Feedback***: +92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله     وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، پهٔ صفحه: 8، حديثِ پاک نمبر: 8 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** اِذَا اَرَادَ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّسْاَلَ، فَلْيَبْدَأْ بِالْمِدْحَةِ، وَالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهٗ، ثُمَّ لِيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ لِيَسْاَلْ بَعْدُ فَاِنَّهٗ اَجْدَرُ اَنْ يَّنْجَحَ۔ (1)

**ترجمه:** چې کله پهٔ تاسو کښې څوک د دُعا کولو اراده وکړي نو هغهٔ له پکار دي چې د الله پاک د شان لائق د هغهٔ تعريف وکړي بيا پهٔ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود ولېږي بيا د هغې نه پس دُعا وکړي چې دا دُعا د قبليدو زياته لائقه ده۔

کہا خدا نے پڑھو مومنو! نبی پہ درود
بس اب ہمیں تو یہ وِردِ درود ہے طاعات

قبولیت ہے دعا کو درود کے باعث
یہ ہے درود کہ ثابت کرامت و برکات

خدائے پاک سے یہ آرزو ہے کافیؔ کی
درودِ سرورِ عالم پہ بھیجئے دن رات (2)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

---

1 ... معجم کبیر، جلد:9، صفحہ:155، حدیث:8780۔

2 ... کافی کی نعت، صفحہ:41۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د اللّٰہ پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پۀ اَدب به کښینم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

## وور خادر اونه سیزلو

حضرت ابراهیم آجري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ یو بزرګ تیر شوے دے۔ یوه ورځ هغوئي تنور لمبه کولو، پۀ دې کښې هلته یو غیر مسلمه راغلو۔ هغوئي هغۀ ته د اِسلام دعوت ورکړو او اوئې فرمائیل: اَسۡلِمۡ فَلَا تَدۡخُلِ النَّارَ مسلمان شه---!! د دوزخ د وور نه به بچ شې۔ غیر مسلمه وه وئیل: اګر که تاسو مسلمان یئ، کلمه وایئ، البته! د دوزخ پۀ معامله کښې زۀ او تاسو برابر یو، وور ته خو به تاسو هم ځئ، زۀ به هم ځم۔ هُم ستاسو پۀ کتاب (یعني قرآنِ کریم) کښې دي:

| | |
|---|---|
| وَ اِنۡ مِّنۡکُمۡ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ<br>(پاره:16، سورۂ مریم:71) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او ستاسو نه هر یو پۀ دوزخ باندې تیریدونکے دے۔ |

معلومه شوه چې دوزخ ته به تاسو هم ځئ، زۀ به هم ځم۔ که تاسو غواړئ چې زۀ اِسلام قبول کړم نو ما ته د اِسلام شرف او عزت واضحه کړئ!

---

1 … بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

دا يـې چې واوريدل نو حضرت ابراهيم آجُرِّي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغهٔ څادر راواخستو، خپل څادر مبارک يـې هم لرې کړو، دواړه څادرې يـې پهٔ يو بل کښې راونغښتلې او بَل شوي تنور ته يـې وغورځولې- لږ وخت پس پخپله هم تنور ته وردننه شو، څادرې يـې بهر راوېستلې، چې اوئې کتل نو د هغه غير مسلمه څادر سوزيدلے اِيره شوے وو او د حضرت ابراهيم آجُرِّي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څادر مبارک بالکل صحيح سلامت وو، پهٔ دې باندې د وور بالکل څهٔ اثر نه وو شوے- دا کِرامت يـې چې ښکاره کړو نو اوئې فرمائيل: زمونږ د دواړو به دوزخ ته تلل داسې وي، غير مسلمه به د دوزخ پهٔ وور کښې وسوزي او مسلمان به پهٔ سلامتيا سره تير شي- دا يـې چې وليدل نو هغه غير مسلمه کلمه ووئيله او مسلمان شو- (1)

## د آيت مبارک وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې واقعه کښې چې د قرآن د کوم آيت ذِکر وشو، دا د شپاړسمې سيپارې، د سورهٔ مريَم 71 نمبر آيت دے- د دې وضاحت واورئ! الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ (پاره:16، سورۂ مريم:71) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او ستاسو نه هر يو پهٔ دوزخ باندې تيريدونکے دے- |

د دې آيت يوه معنىٰ دا ده چې پل صِراط کوم چې به د دوزخ د پاسه کيښودلے شي، هر يو ته پهٔ هغې باندې تيريدل دي، آؤ! چې څوک مسلمان وي، هغهٔ به پهٔ دې باندې پهٔ سلامتيا سره تير شي او څوک چې غير مسلمه وي، هغهٔ به کټ شي او د دوزخ ژورې کندې ته به پريوځي- (صراط الجنان)

[1] ... نوادر القليوبي، ص:۱۸۷-

سُبْحٰنَ الله! د کلمه ویونکي مسلمان هم څهٔ ښکلے شان دے---!! هٰغه د ویښته نه نرے، د تورې نه تیرهٔ پل صراط، پهٔ کوم باندې چې هر یو ګس ته خامخا تیریدل دي، چې کله به غیر مسلمه پهٔ دې باندې کټ کیږي او دوزخ ته به پریوځي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! مؤمِن بنده به پهٔ دې باندې پهٔ سلامتیا سره تیر شي- اِمامِ اهلِسُنَّت اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه لیکي:

| | |
|---|---|
| پائے کوباں پُل سے گزریں گے تری آواز پر | رَبِّ سَلِّم کی صدا پر وجد لاتے جائیں گے |

وضاحت: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ستاسو عاشقان به پهٔ پل صراط باندې ستاسو د رَبِّ سَلِّم پهٔ اواز باندې پهٔ وجد کښې راځي، پوندې به وهي او د سرور او مستیٔ پهٔ حالت کښې به پرې تیریږي-

## د اِیمان والا کیدلو برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِله! مونږه مسلمانان یو، الله پاک صرف پهٔ خپل کرم باندې مونږ ته د اِیمان دولت راعطا کړے دے، یقیناً چې دا ډیر لوئي بلکې د ټولو نه لوئي کرم دے- د ټولو فضیلتونو، د ټولو عطاګانو، د ټولو نعمتونو اصل هم اِیمان دے ❀ چې کله اِیمان نصیب شي نو بیا بنده د الله پاک د خاص رحمتونو حق دار جوړ شي ❀ چې کله اِیمان نصیب شي نو بنده کامیاب شي ❀ چې کله اِیمان نصیب شي نو بنده د جنَّت حق دار جوړ شي، الله پاک پهٔ اِیمان والؤ باندې خاص کرم فرمائي ❀ اِیمان والا ته پاک ژوند عطا کولے شي ❀ د اِیمان والا نیکیٔ قبلولے شي ❀ د اِیمان والا ګناهونه معاف کولے شي ❀ د اِیمان والا قبر د جنَّت باغ جوړیږي ❀ د اِیمان والا راحت او سکون نصیب کیږي ❀ او هُم اِیمان والا دے د چا د پاره چې د اخرت ټول نعمتونه تیار کړے شوي دي ❀ بے اِیمانه او غیر مسلمه خلق خو د رَبّ نافرمانه دي ❀ د هغهٔ د رحمت نه لرې ❀ د هغهٔ د غضب حق دار او همیشه همیشه پهٔ دوزخ کښې د پاتې کیدو لائق دي

❁ بلکې رښتيا خبره خو دا ده چې څوک بے اِيمانه دے، غير مسلمه دے، هغۀ پۀ حقيقت کښې د انسان وئيلو هم حق دار نۀ دے، الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ؕ (پاره:9، الاعراف:179) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: دا خلق د څناورو پۀ شان دي بلکې د هغوئي نه هُم زيات ګمراه شوي۔ |

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! الله پاک مونږ ته د اِيمان دولت راعطا کړے دے، رَبِّ کريم دې مونږ ته پۀ دې باندې اِستقامت رانصيب کړي، تر مرګه پورې مسلمان پاتې کيدل، هُم د اِيمان پۀ حالت کښې قبر ته کوزيدل او د قيامت پۀ ورځ راپاڅيدل رانصيب کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

محبّت میں اپنی گُما یاالٰہی
نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی!
عبادت میں گزرے مری زندگانی
کرم ہو کرم یا خدا! یاالٰہی!
مسلماں ہے عطّار تیری عطا سے
ہو ایمان پر خاتمہ یاالٰہی![1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## صِرف اِسلام د نجات لاره ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا خبره پۀ زړۀ کښې کښينوئ! چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت اعلان وکړو، د هغه وخت نه تر د قيامته پورې د نجات لاره صرف او صرف اِسلام ده، د دې نه علاوه هر يو دِين، مذهب، سوچ،

---

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:105۔

نظریه کوم چې د اِسلام مخالف دے، نۀ خو هغه د قبلیدو قابل دے او نۀ نجات ورکولے شي- الله پاک فرمائي:

وَ مَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلَامِ دِیْنًا فَلَنْ یُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ
(پاره:3، سورۂ آل عمران:85)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او څوک چې د اِسلام نه علاوه بل دین غواړي نو هغه به د هغۀ نه هیڅ کله قبول نه کړے شي-

معلومه شوه چې نجات ورکوونکے دِین صرف او صِرف اِسلام دے- د دې نه علاوه د نجات بَله څۀ لار نشته-

## که چرې حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام هُم تشریف راوړي

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: یو ځل د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو، د هغوئي پۀ لاس کښې د مخکښیني اسماني کتاب تورات شریف یوه نُسخه وه- هغوئي د محبوبِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوا کښې کښیناستلو او د تورات شریف لوستل یې شروع کړل- دلته هغوئي د تورات شریف پۀ لوستلو کښې مصروف وو او هلته د جلال پۀ وجه د محبوبِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک رنګ بدلیدلو- د مسلمانانو وړومبي خلیفه حضرت اَبُو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جلال ولیدلو نو فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته یې وفرمائیل: عمره! نُوراني مخ ته خو وګورئ---!! فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې څنګه د خوږ نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک طرف ته وکتل، د جلال کیفیت یې چې ولیدلو نو ویریدلو- پۀ دې باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: د هٰغه ذات پۀ قَسم د چا پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! که حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام پخپله د ظاهري ژوند سره دُنیا ته دوباره تشریف

راوړي او تاسو ما پرېږدئ او د هغوئي پيروي شروع کړئ نو د نيغې لارې نه به بے لارې شئ، که اوس حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پخپله د ظاهري ژوند سره دُنيا کښې موجود وے نو ضرور به يې زما پيروي اِختياروله-

اَللّٰهُ اَکْبَرُ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د غور مقام دے---!! تورات شريف اسماني کتاب دے، ❀ د يوې مودې پورې دا کتاب د هدايت معيار وو ❀ تر صدو پورې به په دې باندې عمل کوونکو نجات موندلو ❀ هُغه د اوچت شان والا کتاب دے، په کوم باندې چې به عمل کوونکي اوچتو مرتبو ته رسيدل ❀ په کوم باندې چې د عمل کولو په برکت به بني اسرائيلو فتح موندله ❀ د الله پاک د رحمتونو حق دار به جوړېدل ❀ د کوم لوستل چې هم ثواب وو ❀ کوم ته کتل چې هم ثواب وو ❀ اوس چې محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړے دے، د نبوت اِعلان يې فرمائيلے دے، د دې نه پس دا تورات هم د نجات لاره پاتې نه ده ❀ په دې باندې عمل هم منسوخ شو- چې د مخکښينو اسماني کتابونو په باره کښې دا حکم دے نو پخپله غور وکړئ چې کومې نوې نوې فتنې پيدا کيږي، نوي نوي مذهبونه جوړولے کيږي، نوې نوې نظريے او طور طريقې په دُنيا کښې جوړولے کيږي، دا د نجات لارې او د هدايت لارې څنګه کيدے شي---؟ معلومه شوه چې د کله نه محبوب ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړے دے، هغوئي د نبوت اِعلان فرمائيلے دے، د دې نه پس تر قيامته پورې د نجات لاره صِرف هُم يوه ده، **هغې ته اِسلام وئيلے شي-**

## د قُرآنِ پاک په شان بل يو کتاب نشته

د خليفه مامُون الرشيد د زمانې خبره ده، يو ځل د خليفه دربار ته يو غير مسلمه راغلو، هغهٔ ډيرې ښې خبرې وکړې، مامُون الرشيد هغهٔ ته د اِسلام قبلولو دعوت ورکړو خو هغهٔ اِنکار وکړو- يو کال پس هغهٔ بيا راغلو، هُغه وخت هغهٔ کلمه وئيلې وه او اِيمان يې

راوړے وو، هغهٔ ډیر عِلمِ دِین هم زده کړے وو- چې کله د هغهٔ نه پوښتنه وکړے شوه چې ستا د اِسلام قبلولو سبب څهٔ جوړ شو نو هغهٔ وه وئیل چې تیر کال چې زهٔ ستاسو د مجلس نه پاڅیدم او لاړم نو ما د مختلفو مذهبونو د امتحان اخستو اراده وکړه- نو ما د تورات، انجیل او قرآنِ کریم درې، درې نُسخې ولیکلې، پهٔ کومو کښې چې مې د خپل طرف نه څهٔ کمے بیشے وکړو- دا نُسخې مې واخستلې او د تورات او انجیل والؤ خوا له لاړم، هغوئي زما نه هٰغه نُسخې واخستلې خو چې کله ما د قرآنِ کریم بدلې کړے شوې نسخې واخستلې او اِسلامي کتب خانې ته لاړم نو هغوئي هغه پهٔ غور سره ولوستلې، هغوئي چې کله وکتل چې پهٔ دې کښې کمے بیشے شوے دے نو هغوئي د هٰغه نسخو اخستو نه انکار وکړو- د دې سره پهٔ ما باندې د اِسلام رښتوني کیدل واضحه شول او ما کلمه وه وئیله او مسلمان شوم- (1)

| | |
|---|---|
| مُبَدَّل ہوئے انبیا کے صحائف | مُحَرَّف نہ ہو گا صحیفہ تمہارا (2) |

وضاحت: پهٔ نورو انبیائے کرامو علَیہِمُ السَّلام باندې چې کومې صحیفې او کتابونه نازل شول، د هغوئي اُمَّتونو د هغې قدر اونه کړو او هغه یې بدل کړل خو اے محبوبِ ذیشانه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا ستاسو شان دے چې اللّٰه کریم پهٔ تاسو باندې د نازل شوي کتاب یعنې قرآنِ کریم حفاظت پهٔ خپله ذِمهٔ کرم باندې اخستے دے، ځکه به پهٔ تاسو باندې پهٔ نازلیدونکي کتاب قرآنِ کریم کښې چرې هم بدلون نه کیږي-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

1... تفسیرِ قرطبی، پارہ:14، الحجر، زیرِ آیت:9، جز:10، جلد:5، صفحہ:5ملتقطاً۔
2... قبالہ بخشش، صفحہ:31۔

# د قرآنِ کریم یو اهم حکم

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن سبا د فتنو دور دے، هره ورځ نوې نوې فتنې سر راپورته کوي ❀ اِلحاد (یعنې بے دیني) یوه فتنه ده، دا بے عقله وائي چې انسان ته د سره د څۀ دِین هډو ضرورت نشته، بس چې خپل عقل درته څۀ وائي، پۀ دې باندې ځه ، دا داسې بے دینه دي چې د الله پاک د وجود نه هُم اِنکار کوي (استغفر الله!) ❀هُم داسې د غیر مسلمه تهذیبونو فتنه ❀ دغه شان سیکولر اِزم ❀ سوشل اِزم ❀ ریشنل اِزم (*Rationalism*) او پته نه لګي چې څنګه څنګه فتنې هره ورځ راپیدا کیږي، بس د چا پۀ خُله باندې چې څۀ راځي نو وائي یې، بیا د ټیکنالوجۍ دور دے، د ماشوم ماشوم سره موبائل دے، انټرنیټ دے، سوشل میډیا ده، مخکښې به داسې کیدل چې پۀ یو ځائے کښې به فتنه راپیدا کیدله نو هم ترهٔغه ځائے پورې به محدود وه، بل ښار یا ملک ته چې به د دې اثرات رسیدل نو دم به ترې وتلے وو، اوس خو سوشل میډیا تباهي خوره کړې ده، د دُنیا پۀ یو کوټ کښې څۀ فتنه راپیدا شي، پۀ ورځو میاشتو کښې نۀ بلکې صرف یو څو منټه پرې لګي، ورو ورو کلو علاقو ته د دې فتنو بد اثرات رسي- پۀ داسې حالاتو کښې مونږه څۀ وکړو؟ خپل دِین څنګه بچ کړو؟ د الله پاک د خوښې دِین، پۀ ښکلي ښکلي دِینِ اِسلام باندې به څنګه قائم پاتې کیږو؟ د قرآنِ پاک آیتونه واورئ! که چرې مونږه خپل اِیمان بچ کول غواړو، مونږه خواهش لرو چې د دې دُنیا نه د اِیمان سره لاړ شو نو پۀ مونږ باندې لازِم دي چې د قرآنِ پاک دا آیت پۀ خپل زړۀ باندې نقش کړو، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّیْنِ حَنِیْفًاؕ (پاره:21، سورۂ روم:30) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو د هر باطل نه جُدا اوسه او خپل مخ د الله د اِطاعت د پاره نیغ ساته- |

یعنې اے خلقو! د هر طرف نه نظر واوړوئ او دِین خپله قبله جوړه کړئ! که څوک

هر څۀ وائي، که څوک هر څنګه دليلونه درکوي، که هر قِسمه لالچ درکوي، د هغوئي طرف ته هډو ګورئ مۀ، د هيچا خبره مۀ اورئ، پۀ خپل زړۀ کښې بله يوه خبره هُم مۀ راولئ، د اِسلام مخالف هرې خبرې نه ځان کټ کړئ او د خپل زړۀ، دماغو، سترګو، غوږونو وغيره قبله دِين جوړ کړئ! د پاره د دې چې د بے لارې کيدلو هډو اِمکان پاتې نۀ شي-[1]

## صِرف اِسلام! بس---!!

مياں محمد بخش رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

جنہاں مہندی رنگ نہ دِتا لُوے کی اُس دا لانا
سَوہنے مِلَن ہزار ال، اَساں تُسیں یار وَٹانا

دا يو مِثال دے- د نکريزي کيښودو مطلب دے چې رنګ وکړي- که نکريزه هډو رنګ نه کوي نو د دې د کيښودلو څۀ فائده---؟ هُم داسې چې الله پاک صفا صفا وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ (پاره:3، سورۀ آل عمران:85) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک چې د اِسلام نه علاوه بل دين غواړي نو هغه به د هغۀ نه هيڅ کله قبول نه کړے شي- |

يعنې د اِسلام نه نه علاوه چې د يو دِين، يو مذهب، يوې خبرې، يوې نظريے، د يوې فلسفې هډو حيثيت نشته، چې هغه پۀ اخرت کښې هډو قبوله نه ده، هډو نجات نشي ورکولے نو د هُغه دِين، مذهب، نظريے اختيارولو څۀ فائده---؟ د اِسلام نه علاوه که پۀ

[1] تفسیر رازی، پارہ 21، سورۂ مریم، زیر آیت 30، جلد 9، صفحہ:98، ملخصاً

زرګونو ښکلي میلاؤ شي، خو مونږ یار بدلوو نهٔ، یعني مونږ ته هډو بله خبره اورو نهٔ ، نهٔ د هغې طرف ته مائل کیږو- صِرف اِسلام---!! بس! خبره ختمه-

## د عقل پرستۍ فتنه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن سبا د ریشنل اِزم (***Rationalism***) یعني د عقل پرستۍ فتنه هم ډیره عامه ده- هسې خو دا ډیره پخوانۍ فلسفه ده- کیدے شي چې ډیر خلق د دې فلسفې نه خبر نه وي خو اوس د دې اثرات ډیر عام کیږي، چا ته چې ګورې نو د خپل عقل خبره کوي، د دِیني احکامو پهٔ مقابله کښې د خپلې پوهې خبره کیږي ❁ څوک د سُود پهٔ حرامیدو نه پوهیږي ❁ څوک وائي چې اِسلام د پردې حُکم ولې وکړو؟ ❁ څوک وائي چې پهٔ وراثت کښې د زنانه نیمه حصه ولې ده؟ ❁ بعضې نادانه زنانه ګیله کوي چې نارینوو ته حاکمیت ولې ورکړے شوے دے؟ ❁ نارینه ته چې د څلورو ودونو کولو اجازت دے نو زنانه ته ولې نشته؟ ❁ پهٔ زنانؤ باندې اِسلام بندیزونه ولې لګولي دي؟ وغیره وغیره ډیرې دِیني مسئلې دي، پهٔ کومو باندې چې خلق نه پوهیږي، چې کله پرې پوهه شي نو پهٔ هغې باندې عمل نه کوي بلکې بعضې نادانه خو ضِد او انا شروع کړي، د دې نه د اِنکار طرف ته هم ځي- اللّٰه پاک دې مونږه د داسې نادانۍ نه محفوظ کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د عِلم د حاصلولو درې ذریعې

وګورئ چې د څهٔ څیز د عِلم راتلو د پاره درې ذریعې وي: **(1):** یوه ذریعه ده زمونږه حوّاس یعني سترګې، غوږونه وغیره، ډیر څیزونه مونږ د لیدلو سره پیژنو، لاندې زمکه ده، بره اسمان دے، پهٔ اسمان کښې ستورې ځلیږي- مونږه پهٔ سترګو باندې ولیدل او وه مو پیژندل، د دومره معلوماتو د پاره مونږ ته د هیڅ زده کولو لوستلو ضرورت نه وي

**(2):** د عِلم راتللو دويمه ذريعه زمونږه عقل دے- ډير علوم هغه دي کوم چې مونږه د سترګو او غوږونو وغيره په ذريعه نشو زده کولے، دې د پاره مونږ ته د خپل عقل د استعمالولو ضرورت وي، لکه رياضي ده، سائنس دے، فزکس، کميسټري وغيره، هغه علوم د کومو د زده کولو د پاره چې مونږ له سکول ته تلل پکار دي **(3):** د عِلم دريمه ذريعه وحي ده- زمونږه هغه معاملې، هغه مسئلې، هغه مشکلات کوم چې مونږ د عقل په ذريعه باندې نشو حل کولے، د هغه خبرو ښودلو د پاره الله پاک انبيائے کرام عليهِمُ السَّلام راوليږل، په هغوئي باندې يې وحي نازله کړه او مونږ ته يې د دِين عِلم راورسولو-

معلومه شوه چې د وَحي او د دِين خبرې د هغه ځائے نه شروع کيږي، چرته چې دعقل رسائي ختميږي- چې د دِين درجه هغه ده چرته چې عقل هډو رسيدے نشي نو پخپله سوچ وکړئ چې مونږه دِين په خپل عقل باندې څنګه تَلَلے شو؟

## د عقل دائره کار

يو تاريخ دان د دې ډير ښکلے مثال ورکړے دے، ليکي: د عقل مثال د زرګر د تَلي په شان دے- د زرګر تَله ډيره د کمال وي، دا صِرف ګرام نه بلکې ملي ګرام هم ښائي خو په دې تَله باندې مونږه غر نشو تَلَلے، که غټ شان کاڼے په دې وړه شان تَله باندې کيږدو نو تَله به ماته شي- داسې د دِين مثال هم د غر په شان دے، د عقل مثال د دغه وړې شان تَلي په شان دے- مونږه دِيني احکام او مسئلې په خپل عقل باندې نشو تَلَلے، که د وَحي په کرښه کښې عقل استعمال کړو نو بے لارې به شو- ځکه چې د دِيني احکامو او مسئلو په کومو حکمتونو باندې پوهيږو نو په هغې باندې د **الله** پاک شُکر ادا کړو! که نه پرې پوهيږو نو دا اومنو چې زمونږه پوهه کمه ده، د الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشادات زمونږه د پوهې نه ډير اوچت دي-

| | |
|---|---|
| گزر جا عقل سے آگے کہ یہ نور | چراغِ راہ ہے منزل نہیں ہے |

## د بې دِينه اِنسان کم عقلي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه تر اوسه پورې صدئ تيرې شوې دي، په دې موده کښې لوئي لوئي فلسفيان هم راغلل، لوئي لوئي پوهه سائنسدانان هم راغلل، ډير لوئي عقل مند هم تير شول، تاريخ ګواه دے چې په دومره صدو کښې چا هم د دِين نه اِنکار وکړو، د ژوند بنياد يې د الله پاک په رالیږلے شوي هدايت نۀ بلکې په خپل عقل باندې کيښودو، هغوئي به عزت څۀ موندلو، اُلټا د ذِلت سره مخ شول، تاريخ ولولئ او وګورئ! چا چې دِين اونه منلو، هغۀ خو يا ❁ ستوري خپل خُدايان اومنل ❁ يا يې د نمر عبادت شروع کړو ❁ چا وَنو ته سجدې وکړې ❁ چا د وور عبادت وکړو ❁ او چا کاڼو ته سجدې وکړې، يعني دا د هر څيز بنياد په عقل باندې کيښودونکو دومره عقل هم نه لرلو چې په خپلو لاسونو باندې بَل کړے شوے وور د عبادت لائق څنګه کيدے شي--؟

## د عقل مندئ او عقل پرستئ فرق

دا خبره ياده ساتئ چې عقلمنده کيدل بيله خبره دي او عقل پرست کيدل

## د حضرت عَمرو بن جُموح رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ واقعه ده

يو انصاري صحابي دے، حضرت عَمرو بن جَمُوح رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ- دا د خپلې قبيلې سردار وو، ډير هوښيار، عقل مند وو، چې هغوئي لا اِسلام نه وو قبول کړے، د هغې نه مخکښې خبره ده، هغوئي په خپل کور کښې د لرګي نه جوړ کړے شوے يو بُت کيښودے وو، دوئي به هغه ته مَنَات وئيلو او هغه به يې خپل خدائے منلو- چې کله په مدينه مُنَوَّره کښې د اِسلام رڼا خوره شوه نو د عَمرو بن جَمُوع (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) د زامنو هم هدايت نصيب شو، هغوئي هم اِيمان راوړلو، بيا هغوئي خپل والد صاحب ته د اِسلام دعوت ورکړو خو هغه وخت عَمرو بن جَمُوع (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) د دِين دښمن او په عقل پسې روان وو، هغوئي د

اِسلام قبلولو نه اِنکار وکړو- د هغوئي زامنو د خپل والد د پوهه کولو د پاره یوه منصوبه جوړه کړه، داسي يـې وکړل چې کله شپه شوه نو ټول اوده شول خو هغه د لرګي بُت د کوم چې به عَمرو بن جَمُوع (رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ) عبادت کولو، هغوئي هغه بُت اوچت کړو او په ډيران کښې يـې وغورځولو او واپس راغلل- چې سحر شو نو عَمرو بن جَمُوع (رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ) چې وکتل چې **مَنَات** خو په خپل ځائے کښې نشته، ډير يـې وکتو، ډير يـې ولټولو خو چرته يـې هم څهٔ درک اونه لګيدو، اخر د لټولو په تکل کښې د ګندګۍ ډيران ته لاړو، هلته يـې خپل **مَنَات** په ذِلّت سره پروت وليدو نو ويريدلو، زر يـې راوچت کړو او کور ته يـې راوړلو، اوئې وينځلو، غسل يـې ورکړو، خوشبو يـې پرې ولګوله او په اَدَب باندې يـې په يو ځائے کښې کيښودو او د هغه عبادت يـې شروع کړو، چې بله شپه راغله نو زامنو يـې بيا هم هغسې وکړل، بَل سحر بيا **مَنَات** په خپل ځائے کښې نه وو، نن هم د ګندګۍ په ډيران باندې ميلاؤ شو، يو څو ځل چې داسې وشول نو بيا عَمرو بن جَمُوع (رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ) څهٔ نا څهٔ پوهه شو، نو هغوئي يوه توره د **مَنَات** غاړې ته واچوله او اوئې وئيل: که چرې په تا کښې څهٔ خير وي نو نن ته پخپله خپل حفاظت وکړه-

بيا چې شپه شوه نو د عَمرو بن جَمُوع (رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ) زامنو نن څهٔ وکړل چې د **مَنَات** د غاړې نه يـې توره کوزه کړله او د هغې په ځائے يـې ورته يو مړ سپے غاړې ته واچولو- په بله ورځ چې عَمرو بن جَمُوع (رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ) دا حالت وليدلو نو بيا د هغوئي زړه روښانه شو، هغوئي **مَنَات** ته رَدې بَدې وه وئيلې او اوئې فرمائيل: که چرې ته خدائے وې نو داسې به دې سپے غاړې ته نه اچولو او ذليله کيدلې به نهٔ- د دې نه پس حضرت عَمرو بن جَمُوع رَضِیَ اللهُ عَـنْهُ کلمه وه وئيله او اِسلام يـې قبول کړو او د هدايت لارې ته راغلو- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا صِرف يوه واقعه ده، داسې په زرګونو واقعې د تاريخ په

---

1... الاصابة، رقم:5814، عمرو بن جموع، جلد:4، صفحه:502 مفصّلاً-

پاڼو کښې موجودې دي- وګورئ! دا ده د عقل رسائي---!! تر څو پورې چې يـې دِين نۀ وو اختيار کړے، هُغه وخت يـې سوچ څومره وړوکے وو، چې دِين يـې اختيار کړو نو د اوچت والي حق دار جوړ شو- معلومه شوه چې مونږ پۀ خپل عقل باندې پخپله خپل قدر او قيمت هم صحيح نه شو پيژندلے نو نورې معاملې به پۀ عقل باندې څنګه صحيح کوو-

## هيومن اِزم *(Humanism)* د بے عقلۍ تازه مثال

پۀ اوسني ترقي يافته وخت کښې وګورئ! څوک چې بے دينه دي، د چا چې دعویٰ ده چې مونږه د اِلهامي هدايت (***Divine Guidance***) نه بغير هم خپلې معاملې صحيح کولے شو، لکه څنګه چې هيومن اِزم (***Humanism***) دے- الحاد دے، ډِي اِزم (***Deism***) وغيره دے، هغوئي انسان ته د څناور نه زيات اهميت ورنکړو- هغوئي دا مني چې لکه څنګه نور څناور د دې کائنات حصه ده، دغه شان انسان هم د دې د فطرتي کائنات يو حصه (***Part of Natural world***) ده-

دا ده د عقل رسائي---!! هُغه تش پۀ نوم عقل مند د کومو چې دعویٰ ده چې مونږ ته د دِين ضرورت نشته، زمونږ د پاره هُم عقل کافي دے، دا د هغوئي حال دے، لا تر اوسه پورې يـې ځان هم نه دے پيژندلے، ځان يـې د يو څناور نه زيات نه دے ګڼلے---!! دا صِرف دِين دے کوم چې نن پۀ دې ترقي يافته دور کښې نۀ بلکې پۀ زرګونو کاله مخکښې وئيلي وو چې اِنسان د څناورو پۀ شان د دې فطرتي کائنات حصه نۀ ده بلکې پۀ دې کائنات کښې **د اللّٰه پاک خليفه** دے- رَبِّ کريم انسان د دې **زمکې ساتونکے** جوړ کړے دے- پۀ ډير ساده شان مثال باندې د خپلې خبرې وضاحت کووم، دلته چې کله ګرمي راځي نو ډير پوستونه وائرل کيدل شروع شي، خلق يو بَل له ترغيب ورکوي چې **"ګرمي ده، د مرغو، د څناورو د پاره اوبه ږدئ د پاره د دې چې بے زبانه څناور د تندې نه**

**مړه نه شي**" اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ډېر خلق داسې کوي، څوک يې چې نه کوي، هغوئي له هم کول پکار دي- زۀ چې کوم اړخ ته ستاسو پام راګرځول غواړم هغه دا دے چې د سوچ خبره ده چې آيا پۀ دې زمکه باندې بَل هم داسې مخلوق شته چې هُم دغه شان د نورو مخلوقاتو خيال ساتي--؟ آيا يو ځناور ته چرته دا خيال راغلے دے چې زۀ د انسان داسې فِکر وکړم؟ اخر دا خيال صرف هُم انسانانو له ولې راځي؟ د انسان دننه دا جذبې ولې پيدا کيږي؟ ساده شان جواب دے، انسان اَشرَفُ المخلوقات دے، پۀ دې زمکه باندې چې نور څومره هم مخلوقات دي، هُغه ټول د دې دُنيا حصه ده خو انسان هُغه عظيم مخلوق دے کوم چې الله کريم د دې زمکې **ساتونکے** جوړ کړے دے- دا دِين دے کوم چې مونږ ته وائي:

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ ؕ
(پاره:25، سورۀ جاثيہ:13)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او کوم څۀ چې پۀ اسمانونو کښې دي او کوم څۀ چې په زمکه کښې دي ټول يې له خپل طرفه ستاسو پۀ کار کښې ولګول-

دا د اِنسان اصلي قدر او قيمت دے---!! دا دے د انسان اهميت---!! انسان د ځناورو پۀ شان پۀ فطرتي توګه د کائنات حصه (***Part of Natural world***) نه ده بلکې پۀ دې دُنيا کښې د رَبُّ العالمين خليفه او د دې دُنيا ساتونکے دے- هُم انسان هُغه دے د چا د پاره چې نمر، سپوږمۍ ستوري پۀ کار باندې لګولے شوي دي، هُم انسان دے د چا د پاره چې د زمکې هر څيز تابع کړے شوے دے-

څومره د حيرانتيا خبره ده، د چا چې دعوىٰ ده چې مونږ هر څۀ پۀ عقل باندې کولے شو، هغوئي خو تر اوسه خپل ځان، خپل صلاحيتونه، خپل اهميت هم نه دے پيژندلے نو نور به څۀ وکړي- دا حقيقت دے چې انسان ته د هغۀ اصلي قدر او قيمت، د هغۀ اصلي

اهميت او صحيح پيژندګلو هم د دِين په ذريعه باندې ميلاويږي- ډاکټر اِقبال وئيلي وو:

خُودی کا سِرِّ نِہاں لَا اِلٰہَ اِلَّا الله

خُودی ہے تیغِ فَساں لَا اِلٰہَ اِلَّا الله (1)

**وضاحت:** د خودی نه مُراد: د انسان حقيقت، د هغهٔ پټ صلاحيتونه، د هغهٔ قدر او اهميت دے- مطلب دا دے چې د انسان حقيقت او د هغهٔ د صلاحيتونو پټ راز په لَا اِلٰہَ اِلَّا الله کښې دے- تر څو پورې چې انسان لَا اِلٰہَ اِلَّا الله اونه وائي (يعنې کلمه اونه وائي او ځان په مکمله توګه الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اونه سپاري، تر هغه وخته پورې د هغهٔ صلاحيتونه پټ وي، انسان کوم چې اَشرَفُ المخلوقات دے، تر څو پورې چې دا د دِين تابع شوے نه وي، تر هغه وخته پورې دا خپل ځان هم په پوره توګه نشي پيژندلے-

وہ دانائے سُبُل، خَتمِ رُسُل، مَولَائے کُل جس نے

غُبَارِ راہ کو بخشا فروغِ وادیٔ سِینا (2)

**وضاحت:** يعنې هغه د هدايتونو د لارو نه خبر، اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم چې د ټولو آقا او مولیٰ دے، دا هم د هغوئي لوئي ذات دے،چا چې د لارې د ذرو نه رشکِ طُور کړے دے-

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مکې مکرمې بازارونو ته تللو او اعلان به يې کولو: يَاَيُّهَا النَّاسُ! قُوْلُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ تُفْلِحُوْا اے خلقو! لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ

---

1... کلیاتِ اقبال، ضربِ کلیم، صفحه:527۔

2... کلیاتِ اقبال، بالِ جبریل، صفحه:363۔

وه وايئ! (يعني اِسلام قبول کړئ) او فلاح بياموموئ![1] تاريخ ګواه دے چې د هدايت پۀ دې اواز باندې چې چا لَبَّيک وه وئيلو، هغۀ د ترقۍ او عروج هغه بام ته وختل د کوم چې تصور نشي کيدے، او چا چې د دې نه اِنکار وکړو هغۀ د ذِلت او رسوايۍ ژورې کندې ته وغورځيدل- وګورئ! ❁ اَبُو جهل انکار وکړو، نن ابو جهل چرته دے؟ د هغۀ څۀ نخښه نښانه هم نشته، حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کلمه وه وئيله، کوم بام ته ورسيدلو--!! ❁ ابو لهب انکار وکړو، تباه او برباد شو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کلمه وه وئيله، دومره اوچتې مرتبې ته ورسيدلو چې نن بے دينه هم د هغوئي د سيرت نه سبق زده کوي ❁ عُتبه، شَيبَه وغيره د مکې مکرمې سردارانو انکار وکړو، نن د هغوئي نوم اخستو والا هم څوک نشته، حضرت بِلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حبشې وو، هغوئي کلمه وه وئيله، بيا هغه وخت هم زمانې وليدلو چې هغوئي د کعبې پۀ چت باندې ولاړ وو او اذان يــې کولو-

معلومه شوه چې دا دِين دے، دا اِلهامي هدايت دے، دا د رَبّ رالېږلے شوې راهنمائي ده، د دې هدايت نه بغير کامياب ژوند تيرول خو غټه خبره ده، انسان خپل ځان هم پۀ پوره توګه نشي پيژندلے-

دا مې صرف يو مثال عرض کړو، د دې نه علاوه نورې هم ډيرې مسئلې دي چې انسان پۀ زرګونو کاله د سوچ نه کار واخستو خو بيا يــې هم هغه مسئلې حل نه کړے شوې، دا صرف د الله پاک رالېږلے شوے دِين دے کوم چې د دې مسئلو صحيح حل عطا کوي ❁ مثلاً د نِسوَانيَّت (***Feminism***) يعني د زنانۀ د حقونو مسئله- د صدو نه انسان د دې حل لټولو، د ارسطو او افلاطون پۀ شان فلسفيانو پۀ دې باندې ډير سوچونه وکړل چې د زنانۀ پۀ معاشره کښې څۀ اهميت دے ❁ پۀ نتيجه کښې چا زنانه ته مار وه وئيلو ❁ چا

---

[1]... الزہد لابن المبارک، الجزء التاسع، صفحه:334، حديث:116۔

ورته شیطان وه وئیلو ❀ کله دا د ظلم زور ښکار کړے شوه ❀ کله د دې عزت تار تار کړے شو او په اوسني ترقي یافته دور کښې وګورئ، دا عقل پرسته، د دِین نه بیزاره غیر مسلمه--!! دوئي د زنانؤ نه صرف یو اشتهار جوړ کړے دے- دا صرف دِینِ اِسلام دے کوم چې وه وئیل چې ❀ زنانه که چرې لور وي نو رحمت وي ❀ که خور وي نو عزت وي ❀ که مور وي نو د ښپو لاندې یې جنَّت وي ❀ که د ښځې په توګه کور ته راشي نو د دې په ذریعه د سړي نیم اِیمان محفوظ شي ❀ دغه شان معاشي مسئله ده--!! پیسه ګټل څنګ دي؟ څنګه به یې لګوې؟ په دې مسئله باندې هم تر ډیرو صدو پورې بحث کیدلو خو عقل د دې هیڅ حل اونه ویستلو، مارکس اِزم، کیپټل اِزم وغیره څومره څومره انقلابونه راغلل، څنګه څنګه تحریکونه شروع شول خو مسئله هم هُغه شان پرته ده، څوک چې غریبانان وو، نور هم غریبانان کیږي، څوک چې مالداره وو، نور هم مالداره کیږي، دا صِرف اِسلام دے کوم چې دا مسئله حل کړه، تاریخ ګواه دے چې، "**حضرت عمر بن عبد العزیز** رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه **په خپل دوه نیم کاله دورِ خلافت کښې اِسلامي نظام نافذ کړے وو، معاشرې دومره ترقي کړې وه چې د زکوٰۃ حق دار به نه میلاویدو.**" (1)

غرض دا چې په زرګونو مسئلې دي په کومو باندې چې انسان تر صدو پورې سوچونه وکړل، د عقل نه یې کار واخستو خو هیڅ حل یې راونه ویستلو، دا دِین دے، د الله پاک رالیږلے شوے هدایت دے، کوم چې د دې مسئلو ډیر بهترین حل راویستے دے- دا ټول تاریخي حقیقتونه د دې خبرې ګواهي ورکوي چې په دې دُنیا کښې انسان د دِین او د شریعت محتاجه دے، انسان پابند دے چې ځان په مکمله توګه الله او رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته وسپارې، بیا د شریعت مطابق ژوند تیر کړي، په خپل کور، خپل کاروبار، خپلو ټولو معاملو کښې شریعت خپل معیار جوړ کړي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په

---

1 ... سیرۃ عمر بن عبد العزیز لابن حکم، غنی الناس فی خلافۃ عمر، صفحه:110 خلاصةً۔

دُنيا او پهٔ اخرت کښې به ډېره کاميابي او ترقي حاصله کړي- که چرې انسان داسې اونه کړل نو بيا اګر که پهٔ دُنيا کښې څهٔ موده مزې هم وکړي خو پهٔ اخرت کښې به د ډېر ذلت سره مخ کيږي-

## د بادشاه بدې ورځې ولې راغلې---؟

منقول دي چې يو کَس وو، هغهٔ ته پهٔ ځوانۍ کښې بادشاهي ميلاؤ شوه- بيا هغهٔ څهٔ پريشانه شو چې اخر زهٔ به پهٔ دې کم عمر کښې او د کمې تجربې سره دومره غټ سلطنت څنګه چلووم---؟ نو هغهٔ د خپلو ملګرو او دربار والؤ سره مشوره وکړه نو ښو خلقو هغهٔ ته وه وئيل چې **د سلطنت چلولو د پاره د علمائے کرامو راهنمائي ډېره ضروري ده-** ځلمے بادشاه پهٔ خبره باندې پوهه شو، هغهٔ د ټول ښار علمائے کرام او مشائخ راوغوښتل، د هغوئي پهٔ خِدمت کښې يې عرض وکړو چې تاسو ټول زما سره اوسئ! چې کله ما د الله پاک پهٔ دِين باندې روان وينئ نو ما له د دې حکم راکوئ، چې کله مې د دِين نه بے لارې وينئ نو ما د هغې نه منع کوئ-

علمائے کرامو دا ذِمه وارې سمبال کړه، دې ځلمي بادشاه د علمائے کرامو پهٔ راهنمايۍ کښې سلطنت چلول شروع کړو، تر 400 کالو پورې هغهٔ پهٔ کاميابۍ سره سلطنت وچلولو- چې څلور صدۍ تيرې شوې نو شيطان پهٔ اِنساني شکل کښې د هغهٔ خوا له راغلو، اوئې وئيل: مَنْ اَنْتَ؟ تهٔ څوک يې؟ بادشاه وه وئيل: زهٔ د آدم عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ اولاد کښې يو کَس يم- د دې ځائے نه شيطان دا پهٔ خپل جال کښې راګير کړو، اوئې وئيل: تهٔ انسان نهٔ يې، که چرې تهٔ انسان وے نو لکه څنګه چې نور خلق مړه کيږي، تهٔ به هم مړ شوے وے او تهٔ د څلورو صدو نه حکومت کوې، تا له مرګ رانغلو، د دې نه دا ثابته شوه چې تهٔ انسان نهٔ يې بلکې تهٔ خدائے يې، دا دِين او د علمائے کرامو صحبت پريږده! خلق د خپل عبادت طرف ته راوبله!

بیا دا د شیطان پۀ خبرو کښې راغلو او پۀ هغۀ باندې د عقل پرستۍ پیریان کښیناستل، هغۀ دِین او د الله پاک رالیږلے شوے هدایت پریښودو او د خُدایۍ دعوىٰ یې وکړه- چې کله یې داسې وکړل نو الله پاک د هغه وخت نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي ولیږله، حکم وشو چې دې بادشاه ته وفرمایئ! تر څو پورې چې تۀ پۀ نیغۀ لاره باندې روان وې نو ما ستا سلطنت ښه قائم وساتلو، اوس چې تا زما نافرماني شروع کړه، بس زما د عزت او جلال قَسم--!! اوس به پۀ تا باندې بخت نصر (نومې ظالِم بادشاه) مسلط کولے شي- بیا هم داسې وشول، لږه موده پس بخت نصر پۀ هغه بدبخته بادشاه باندې حمله وکړه، د هغۀ سر یې قلم کړو او د هغۀ پۀ سلطنت باندې یې قبضه وکړه- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د عبرت خبره ده---!! بادشاه وو، د طاقت والا وو، د خزانو والا وو، 400 کاله حکومت یې کړے وو، تر څو پورې چې دا د الله پاک د دِین تابع وو، د رَبِّ کریم فرمانبرداره وو، د هغۀ سلطنت چلیدو، څنګه چې هغۀ د دِین نه انکار وکړو، د دِین نه یې مخ واړولو، د عقل پۀ جال کښې راګیر شو، د شیطان پۀ چل کښې راغلو، تباه او برباد شو، د هغۀ بادشاهت، د هغۀ سلطنت، د هغۀ تاج او تخت، د هغۀ طاقت هیڅ هم هغۀ د الله پاک د قهر نه بچ نکړے شو- پۀ دې کښې زمونږ د پاره سبق دے چې مونږ ته پۀ هره لحظه، هر وخت، د ژوند پۀ هره معامله کښې، پۀ هر لحاظ سره د دِین او د شریعت فرمانبرداره اوسیدل پکار دي، پۀ دې کښې زمونږه د پاره خیر دے، پۀ دې کښې زمونږه عزت دے، پۀ دې کښې د دواړو جهانونو کامیابي ده، هم دا زمونږه د ژوند اصلي معیار دے-

د الله پاک لوئي کرم دے چې هغۀ مونږ ته د اِیمان دولت عطا کړے دے، رَبِّ کریم دې مونږ ته پۀ دې باندې اِستقامت هم راعطا کړي- کاش چې مونږه تر مرګه پورې

---

[1] ... نوادر القلیوبي، صفحه:9-

مسلمانان پاتې شو- چرې د يو سيکند په کروړومه حصه کښې هم زمونږه اِيمان زمونږ نه جُدا نه شي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تُونے اِسلام دیا تُو نے جماعت میں لیا | تُو کریم اب کوئی پھرتا ہے عطیّہ تیرا [1]

وضاحت: اے زمونږه آقا او مولیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هُم تاسو اِسلام راکړو، هُم تاسو په خپله ډله کښې شامل کړو، تاسو کريم يئ، نو آيا د کرم والا خپله عطا واپس اخلي؟ (نه داسې نه ده، کريم چې څه عطا کړي نو واپس يـې نه اخلي، ځکه به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! زما اِيمان سلامت وي)

## د اِيمان بنياد په عشق باندې ساتئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې تفصيلاتو نه معلومه شوه چې زمونږه د دُنيا بهترې، زمونږه د اخرت بهترې د الله او د رسول په حکمونو باندې پوخ يقين ساتلو کښې ده- ځوک چې د الله پاک په حکمونو باندې پوخ يقين لري، که پوهيږي پرې او که نه پرې پوهيږي، په هغه فرامينو باندې عمل کوي، هغه په دُنيا کښې هم کامياب وي، او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! په اخرت کښې به يـې هم اوچته مرتبه نصيب کيږي-

ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه خپل اِيمان، خپلې عقيدې، خپلې نظريې بلکې د ژوند د هر کار بنياد په عقل باندې نه بلکې د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حکمونو باندې وساتو-

---

[1] ... حدائقِ بخشش، صفحه:18۔

او اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

وہ کہ اس دَر کا ہوا، خلقِ خُدا اس کی ہوئی

وہ کہ اس در سے پھر اللہ اس سے پھر گیا

ځکه د یو ځائے بل ځائے د ډغرو وهلو نه بهتر دي بلکې لازمي او ضروري دا دي چې مونږه د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرامین د زړۀ نه اومنو- بنیاد پۀ عقل باندې نۀ بلکې پۀ عشق باندې وساتو-

عقل کو تنقید سے فرصت نہیں | عشق پر اعمال کی بنیاد رکھ

پۀ پنجابۍ کښې وئیلے شي:

عِشق دِے جَھلّے نمبر لے گئے | عَقل مَنداں نے اَیویں عُمراں گالیاں

حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عاشقِ رسول وو، تر قیامته پورې د راتلونکو سردار جوړ شو، ابو جهل او ابو لهب وغیره د خپل عقل پۀ غرور کښې وو نو ذلیله او خوار شول-

## د چیلۍ بنپې

حضرت ابو عُبَید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، یو ځل هغوئي رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له ډوډۍ وکړله، د چیلۍ بنپې یې پخې کړلې- چې ډوډۍ خوړل شروع کړے شول نو د مدینے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: نَاوِلْنِیْ ذِرَاعَهَا ما له د دې مخکښۍ بنپه راکړه! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخکښۍ بنپې غوښه خوښه وه- حضرت اُبُو عبید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخکښۍ بنپه وړاندې کړله- لږ وخت پس نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیا وفرمائیل: نَاوِلْنِیْ ذِرَاعَهَا ما له مخکښۍ بنپه راکړه- حضرت ابو عبید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بَله مخکښۍ بنپه هم وړاندې کړله- نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیا

وفرمائيل: نَاوِلْنِيْ ذِرَاعَهَا ما له مخکښۍ ښپه راکړه! حضرت ابو عبيد رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د چيلۍ مخکښې ښپې څو وي؟ (يعنې د يوې چيلۍ مخکښۍ ښپې خو هم دوه وي او دوه ما وړاندې کړې دي)- پۀ دې باندې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **پۀ هُغه ذات باندې مې دې قَسم وي د چا پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! که چرې تۀ خاموشه پاتې شوے وے نو چې تر څو پورې ما غوښتلے، تا به ما له د چيلۍ مخکښۍ ښپې راکولې، د چيلۍ مخکښۍ ښپې به نۀ ختميدلې-** [1]

دلته وګورئ چې د صحابۀ رسول رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ څومره ښکلے تربيت شوے دے- د چيلۍ مخکښۍ ښپې دوه وي، دا خبره بالکل واضحه ده، رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته هم معلومه وه، صحابۀ رسول رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ ته هم معلومه وه خو رسولِ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تربيت وفرمائيلو چې پۀ سترګو ليدلې حقيقت پسې مۀ ځه! زما پۀ فرمان باندې بنياد وساته! نن که چرې تا زما پۀ فرمان باندې سترګې پټې کړے وے نو ما به غوښتلے او تا به راکولے، د چيلۍ ښپې به چرې هم نه وے ختمې شوے- الله پاک دې زمونږه د داسې پوخ اِيمان، پوخ يقين ساتلو توفيق رانصيب کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د حضرت خزيمه رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ بے مثاله ګواهي

پۀ حديثِ پاک کښې دي: آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو کلي وال ګس نه آس واخستو، هغۀ سودا وکړه او د خپلې خبرې نه پښا شو او ګواه يې وغوښتو، کوم مسلمان چې به راتللو نو هغۀ به کلي وال ګس ته ردې بدې وئيلې چې ستا د پاره دې خرابي وي، رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د حق نه علاوه څۀ فرمائي (خو ګواهي څوک نۀ ورکوي ځکه چې د چا پۀ مخکښې واقعه نۀ وه شوې) پۀ دې کښې حضرت خُزَيمه رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ بارګاهِ

---

[1] ... سنن دارمی، مقدمه، باب ما اکرم به...الخ، صفحه:40، حديث:45-

رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو چې خبرې يې واوريدلې نو اوئې وئيل: زهٔ ګواهي ورکووم چې تا پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې اَس خرڅ کړے دے۔

نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: تهٔ خو پهٔ موقع باندې هډو موجود نهٔ وې نو بيا تا ځنګه ګواهي ورکړله؟ عرض يې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زهٔ د حضور د تصديق نه ګواهي ورکووم او پهٔ بَل روايت کښې دي چې ما د رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ راوړے شوي دِين باندې اِيمان راوړے دے او يقين مې دے چې حضور به هم حق فرمائي، زهٔ د اسمان او زمکې پهٔ خبرونو باندې د حضور تصديق کووم نو آيا د دې کلي وال کَس پهٔ مقابله کښې به تصديق نهٔ کووم۔ د دې پهٔ اِنعام کښې محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هميشه د پاره د هغوئي ګواهي د دوو نارينو د ګواهۍ برابر وګرځوله او اِرشاد يې وفرمائيلو: خُزَيمه چې د چا د نفعې که د ضَرر ګواهي ورکوي يواځې د دوئي ګواهي کافي ده۔

سُبۡحٰنَ الله! د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ اِرشاد باندې داسې پوخ يقين پکار دے!

## خِيټه دروغژنه ده، قرآن رښتونے دے

پهٔ بُخاري شريف کښې روايت دے، يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَـنۡهُ پهٔ بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو، عرض يې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما د ورور خِيټه بهيږي (يعنې د هغهٔ دستونه دي)۔

سُبۡحٰنَ الله! د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَـنۡهُم انداز ته وګورئ! خِيټه بهيږي ، دستونه يې دي نو ډاکټر له تلل پکار دي خو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَـنۡهُم ته معلومه وه چې د ټولو طبيبانو طبيب هُم د الله پاک حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، ځوک چې زړونو ته د بدو

عادتونو نه شفا ورکولے شي نو د ظاهري بيمارو نه هم نجات ورکولے شي-

خير! هٔغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خپل ورور د بيمارئ پهٔ باره کښې عرض وکړو، محبوبِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: پهٔ هغهٔ باندې شات وخوره! هغهٔ واپس لاړو، خپل ورور له يې شات ورکړل- بيا مسئله د حل کيدو پهٔ ځائے نوره هم زياته شوه، يعنې د مخکښې نه زيات دستونه شروع شول- بيا حاضر شو، محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا وفرمائيل: پهٔ هغهٔ باندې شات وخوره! واپس لاړو، بيا يې پرې شات وخوړل- مسئله نوره هم زياته شوه- پهٔ دريم ځل حاضر شو، خواست يې وکړو، بيا هم دغه ارشاد وشو، واپس لاړو، نور شات يې پرې وخوړل- مسئله نوره هم زياته شوه- پهٔ څلورم ځل حاضر شو، خواست يې وکړو، اوئې فرمائيل: الله پاک رښتونے دے، ستا د ورور خېټه دروغژنه ده (يعنې ما ته ستا د ورور د بيمارئ پهٔ باره کښې الله پاک دا فرمائيلي دي چې د هغهٔ عِلاج پهٔ شاتو کښې دے، که پهٔ شاتو خوړلو باندې بيماري نهٔ ښه کيږي نو بيا هم د الله پاک فرمان رښتونے دے، قصور ستا د ورور د خېټې دے)، دا ځل بيا لاړ شه! پهٔ هغهٔ باندې شات وخوره! دا ځل چې هٔغه صحابي واپس لاړو، شات يې پرې وخوړل نو د هغهٔ ارام نصيب شو- (مشکاة)

اوس دلته وګورئ! يو خو د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بے مثله او بے مثاله اِيمان دے چې الله پاک د وحي وغيره پهٔ ذريعه باندې دا فرمائيلي چې د دې بيمارئ علاج به پهٔ شاتو باندې کيږي خو درې ځل پرې د شاتو خوړلو باوجود عِلاج اونه شو، محبوبِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ دې باندې څهٔ وفرمائيل: الله پاک رښتونے دے، ستا د ورور خېټه دورغژنه ده-

معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سيرت هم دغه دَرس دے چې زمونږه سترګو ليدلې خبره غلطه هم کيدے شي خو د الله پاک فرمان غلط نشي کيدے-

بیا د هغه صحابئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اِیمان نه قربان شم! مونږ چې یو ځل ډاکټر له لاړ شو، ښه نه شو نو بیا لاړ شو، ډاکټر راته دوائي بدله کړي، څۀ طمع مو پیدا شي چې د دوايۍ سره به مو ارام نصیب شي، که د هغې سره هم ښه نه شو نو مونږه هُم ډاکټر بدل کړو- د هٰغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اِیمان ته وګورئ! د دوايۍ سره ښه خو نه شو بلکې مرض نور هم زیات شو، بیا حاضر شو، بیا هم هٰغه دوائي میلاؤ شوه، مرض نور هم زیات شو، بیا حاضر شو، دوائي هم هٰغه ورکړے شوه، بیا بیا چکرې لګیدلې، نۀ دوائي بدلیدله، نۀ ښه کیدلو، د دومره چکرو وهلو باوجود یــې اعتماد خراب نه شو چې ښه کیږم نو هم د دې پاک دَر نه به ښه کیږم- اِیمان هم داسې پکــار دے- څۀ چې محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائي، بیا که دُنیا د یو ځائے نه بَل ځائے ته شي، د محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمان نه زمونږه اِیمان اوړیدل نه دي پکــار-

## د قیامت پۀ ورځ د اَهلِ فترت حال

د انسانانو یوه طبقه ده، کومو ته چې **اَهلِ فترت** وئیلے شي- د دې نه مُراد هٰغه خلق دي کومو ته چې د یو نبي عَلَیۡہِ السَّلَام تبلیغ نه وي رسیدلے- ﴿تفسیرنعیمی﴾ د حضرت عیسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام اسمان ته تشریف وړلو نه پس او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تشریف راوړلو نه مخکښې والا زمانه، دغې ته **زمانۀ فَترَت** وائي او د دغې زمانے خلقو ته اصحابِ فَترت وائي-[1] دوئي ته د حضرت عیسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام تبلیغ نه وو ورسیدلے، ځکه چې خلقو پۀ انجیل شریف کښې ډیر بدلون کړے وو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لا هم تشریف نۀ وو راوړے چې هغوئي ته اِسلام رسیدلے وے، ځکه دا خلق د یو نبي عَلَیۡہِ السَّلَام د پیغام رسیدلو نه مخکښې مخکښې د دُنیا نه لاړل- د قیامت پۀ ورځ به د دوئي حشر څنګه وي؟ آیا دوئي به جنّت ته ځي که د

---

[1] مسالك الحُنَفاء، ص: 12، 13 ملخصاً

دوزخ حقدار به جوړيږي، پۀ دې باره کښې پۀ روايتونو کښې دي چې د قيامت پۀ ورځ به دا خلق راجمع کړے شي، الله پاک به فرمائي: تاسو ټول دوزخ ته لاړ شئ---!!

دا حکم چې واوري نو دوئي به دوه ډلې شي، يوه ډله چې څنګه حکم واوري نو د دوزخ طرف ته به منډې کړي، دويمه ډله به د خپل عقل مطابق سوچ وکړي او وه به وائي: اے الله پاکه! مونږ پۀ کوم جرم کښې دوزخ ته لاړ شو، مونږ ته خو ستا دِين هډو رارسيدلے نه دے۔

بيا به هغه خلق کومو چې د حُکم اوريدو سره د دوزخ طرف ته منډې کړې وې، هغوئي به واپس راوغوښتلے شي، وه به وئيلے شي: لکه څنګه چې نن تاسو حکم اومنو، که داسې پۀ دُنيا کښې تاسو ته دِين در رسيدلے وے نو تاسو به منلے وے څکه تاسو د جنَّت حق دار يئ۔ نور خلق کومو چې به د الله پاک د حکم پۀ مقابله کښې خپل عقل استعمال کړے وي، هغوئي ته به وفرمائيلے شي: تاسو چې څنګه نن حکم اونه منلو، کۀ تاسو ته پۀ دُنيا کښې دِين در رسيدلے وے نو هُم تاسو به نۀ منلے، څکه تاسو د دوزخ حق دار يئ۔ (1)

معلومه شوه چې اصلي امتحان هم دا دے چې څوک د الله او د رسول حکم پۀ چپه خُله او بغير د ليدلو نه مني او څوک چې د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حکم پۀ مقابله کښې د خپل عقل نه کار اخلي۔ څکه د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ فرمان باندې د زړۀ د اِخلاصه يقين ساتئ! که پۀ يوه خبره باندې مونږه پوهيږو نو مونږ له د الله پاک شُکر ادا کول پکار دي، که مونږ پرې نه پوهيږو نو زمونږه پوهه کمه ده، د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان زمونږ د عقل نه ډير لوئي دے، هغه اومنئ!

---

[1] ... مسالک الحنفا، صفحه:12، 13 ملخصاً۔

گزر جا عقل سے آگے کہ یہ نُور | چراغِ راہ ہے منزل نہیں ہے

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، پۀ اِيمان باندې مو دې اِستقامت نصيب کړي، د اوسني وخت د فتنو نه نجات حاصل شي، کاش چې مونږ پۀ خپل اِيمان سلامت وړلو کښې کامياب شو۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره رساله مطالعه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک د ويرې حاصلولو، د نيکو نه د ډک ژوند تيرولو، د الله پاک د عبادت او د نيک اعمال د جذبې حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ! پۀ 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه به درنصيب شي۔ پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره رساله مطالعه هم ده۔

❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلعِلمُ بِالتَّعَلُّم عِلم د زده کولو سره راځي۔ [1] ❁ د اوسني وخت پۀ بدو کښې يوه بدي دا هم ده چې خلق د عِلمِ دِين نه لرې وځي ❁ د دِيني کتابونو د لوستلو شوق د نشت برابر دے ❁ مخکښينو خلقو به دِيني کتابونه ډير خوښول ❁ شپه او ورځ به يې کتابونه لوستل ❁ لهٰذا د هغوئ سره به ديني معلومات هم ډير وو او ❁ ژوند به يې هم پاک وو۔

❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❁ د عاشقانِ رسول دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي کور کور ته د عِلمِ دِين رڼا

[1] ... بخاري، صفحه:90، حديث:67۔

رسوي ❁ د دعوتِ اِسلامي د باني شيخِ طريقت امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خاصيت دا دے چې هغوئي پخپله هم د عِلم دِين سره ډير شوق لري او عاشقانِ رسول ته هم د دِيني كتابونو د لوستلو د شوق ترغيب وركوي ❁ هغوئي د هر خالي پۀ ورځ د يوې ديني رسالې د لوستلو فرمائي ❁ مختصره شان رساله وي ❁ پۀ يو څو منټو كښې لوستلے كيږي۔

❁ **تاسو يې هم لولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم**! ډيره فائده به مو كيږي ❁ ديني معلومات به مو زياتيږي ❁ د عِلمِ دِين د زده كولو ثواب به درته ميلاويږي ❁ د ديني كتاب د لوستلو سره دماغ هم ښه كيږي ❁ نظر تيزيږي ❁ حكمت نصيب كيږي ❁ سوچ پاكيږي او ❁ پۀ ژوند كښې ښكلا راځي ❁ د جديد سائنسي تحقيقاتو مطابق د كتاب لوستلو سره د دماغي بيمارو نه حفاظت كيږي۔

هره هفته پۀ پابندۍ سره د **هفته وارې رسالې** د لوستلو نِيّت وكړئ! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او جانشتينِ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **هفته واره رساله** لوستونكو ته مختلفې دُعاګانې هم كوي، مونږ چې **هفته واره رساله** اولولو نو څۀ پته لګي چې د اللّٰه پاک د نيک بنده، ولئ كامِل د خُلې نه وَتلې دُعا زمونږ پۀ حق كښې قبوله شي او دُنيا او آخرت مو ښه شي۔ راځئ د ترغيب د پاره درته يو مَدَني سپرلے بيانووم۔

**صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د سترګو د حفاظت ذهن يې جوړ شو

د حيدر آباد (پاكستان) د يو اِسلامي وړور څۀ داسې بيان دے چې غالِباً د كال 2004ء خبره ده چې د حيدر آباد نه مې لاهور ته سفر نصيب شو۔ د سفر پۀ وخت پۀ ټرين كښې د يو ځلمي سره ملاقات وشو چا چې به مسافرو له تكيه ګاني او څادرې پۀ كرايه وركولې، ما پۀ هغۀ باندې انفرادي كوشش وكړو او د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **اَمرَد پسندى كى تباه كارياں** مې ورله پۀ تحفه وركړه۔

تقريباً يوه مياشت پس چې کله بيا حيدر آباد ته تلم نو په روهړي سټيشن مې هم هغه ځلمے بيا وليدو- هغۀ راوړاندې شو او ډير په ښه انداز کښې يـې ملاقات وکړو، په زوره يـې په ټرين کښې جوړ کړے شوي کيېټين ته بوتلم- هلته هغۀ ما له چائے راوړله او اوئې وئيل: تاسو چې ما له کومه رساله راکړې وه، په خدائے مې دې قَسم وي چې د هغې د لوستو سره ما له ژړا راغله او اوس چې هم دا رساله لولم نو زما د سترګو نه اوښکې بهيږي- په ټرين کښې د نظر حفاظت ډير ګران دے- خو د رسالې لوستو نه پس زۀ کوشش کووم چې زما نظر په يو غير محرم باندې پرې نه وځي-

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا دِیا دِینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دِینی ماحول |
| یقیناً مقدر کا وہ ہے سکندر | جسے خیر سے مل گیا دِینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مَعرِفَةُ الـقُرآن موبائل ايپلي کيشن تعارف

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن په نوم د **مَعرِفَةُ الـقُرآن** جاري کړے دے- تاسو د دې ايپلي کيشن په ذريعه ❀ د قرآنِ پاک لفظي او با مُحَاوَرَه ترجمه لوستلے شئ ❀ په دې ايپلي کيشن کښې د آيتونو عنوانات هم ورکړے شوي دي، د کومو په مدد چې د خپلې خوښې د موضوع مطابق قرآني آيتونه کتلے او لټولے شئ- خصوصاً مبلغ اِسلامي ورونړه د دې آپشن نه ډير مدد اخستے شي ❀ په دې ايپلي کيشن کښې سرچ آپشن هم موجود دے، د کوم په مدد چې د آيتونو په لټولو کښې اساني پيدا کيږي ❀ د موضوعاتو د پن پوائنټ کولو آپشن هم ورکړے شوے دے- تاسو هم دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

## یو څو ضروري اِعلانات

✿ د هر اتوار په شپه امیرِ اہلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ په **مدنی چینل** باندې **لائیو هفته واره مدنی مذاکره** فرمائي، د راروان اتوار په شپه به هُم په مدني چینل باندې د ماسختن د نمانځه نه پس (تقریباً 8:30 بجے) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! هفته واره مدنی مذاکره کیږي، په دې کښې به شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنت مولانا محمد الیاس عطّار قادری دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ د سُوالونو جوابونه هُم ورکوي. ټول ذِمَّه داران او عاشقانِ رسول په دې مدنی مذاکره کښې پخپله هُم شرکت وکړئ او نورو ته هُم دعوت ورکړئ ✿ شیخِ طریقت، امیر اہلسنت هره هفته د یوې **دِینی رسالے** د لوستلو [یا اوریدلو] ترغیب هُم ارشاد فرمائي، راروانه مدنی مذاکره کښې به "**د علم دین په باره کښې سوال جواب**" رسالے اِعلان کیږي. دا رساله پخپله هُم ولولئ او نورو ته هُم ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا واټس ایپ وغیره استعمالوي د رضائے اِلٰهی اور ثواب ګټلو د پاره دا رساله نورو سره هُم شئیر (***Share***) کړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

## د اوده کیدو او راپاڅیدو سُنت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم کَس چې د مازدیګر نه پس اوده شي او د هغهٔ عقل لاړو نو هغهٔ دې خپل ځان ملامته کوي-[(1)]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د اوده کیدو نه مخکښې بستره ښه وڅنډئ که ضرر رسوونکے څیز وغیره وي نوچې لرې شي ❀ د اوده کیدو نه مخکښې دا دعا ولولئ اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا- ترجمه: یا الله پاکه! زهٔ ستا د نوم سره مرم او ژوندے کیږم (یعني اوده کیږم او راپاڅم) ❀ د ورځې پهٔ وړومبۍ حصه کښې اوده کیدل یا د ماښام او ماسخُوتن په مینځ کښې اوده کیدل مکروه دي- ❀ پهٔ ماسپښین کښې قیلوله (یعني لږ وخت سملاستل) مستحب دي ❀ پهٔ اوده کیدو کښې مستحب دا دي چې پهٔ اوداسه کښې اوده شي د لږ وخت د پاره پهٔ ښي اړخ او ښي لاس د مخ لاندې کیږدي او مخ پهٔ قبله اوده شي بیا د هغې نه پس پهٔ ګَڅ (یعني کینړ) اړخ ❀ د اوده کیدو پهٔ وخت قبر کښې ملاسته یاده کړئ چې هلته به یواځې سملاستل وي، د خپلو عملونو نه علاوه بل هیڅ څیز راسره نه وي ❀ د سملاستو پهٔ وخت د الله پاک پهٔ یاد کښې مشغول اوسیږئ، تَهْلیل و تسبیح وتحمید لولئ (یعني د لَآاِلٰهَ اِلَّا الله، سُبْحَانَ الله، او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ورد کوئ) تر دې چې اوده شئ، چې پهٔ کوم حالت کښې انسان اوده شي پهٔ هغې پاڅیږي او پهٔ کوم حالت چې مړ کیږي د قیامت پهٔ ورځ به پهٔ هُغه حالت کښې راپاڅیږي ❀ د راپاڅیدو نه پس دا دُعا لولئ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ، ترجمه: ټول تعریفونه الله پاک لره دي چا چې مونږ د وژلو نه پس راژوندي کړو او هم د هغهٔ پهٔ لور واپس ګرځیدل دي ❀ کله چې د هلک او جینۍ عمر لس کاله شي نو دوئي بیل بیل سملول پکار دي بلکه د دومره

---

[1]... مسند ابي يعلیٰ، جلد:4، صفحه:121، حديث:4915-

عمر هلک دې د دومره عمر هلکانو (يعني د خپل همزولو هلکانو) يا د دوئي نه د غټو سړو سره هم نه سملي ❀ هلک چې کله د شهوت حد ته اورسي نو هغه د سړي په حکم کښې دے ❀ کله چې د خوب نه رابيدار شئ نو مسواک کوئ ❀ د شپې چې کله راپاڅئ نو تهجد ادا کوئ دا ډير لوئې سعادت دے- د **رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: "د فرضو نه پس افضل نـمونځ د شپې نـمونځ دے-" (1)

| | |
|---|---|
| میں سو جاؤں یا مصطفٰے کہتے کہتے | کھلے آنکھ صَلِّ علیٰ کہتے کہتے |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| مانگو آکر دُعا پاؤ گے مُدّعا | در کرم کے کھلیں، قافلے میں چلو |
| ہے نبی کی نظر، قافلے والوں پر | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ... مسلم، کتاب الصیام، باب: فَضْلِ صَوْمِ الْمُحَرَّم، صفحه:424، حديث:1163۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصاً

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3]

راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾2﴿ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵